# د سیمه ایزو رادیوګانو لپاره د ټولنیز جنسیت (جندر) پالیسی
# د AMARC-WIN آسیا پاسیفیک لخوا
# د ۱۳۸۶ کال د کب میاشتی اتلسمه



# د سیمه ایزو رادیوګانو لپاره د ټولنیز جنسیت (جندر) پالیسی
# د AMARC-WIN آسیا پاسیفیک لخوا
# د ۱۳۸۶ کال د کب میاشتی اتلسمه

## سریزه

د ښځو مساوات او د ژوندانه په ټولو ډګرونو کی د هغو د ونډی اهمیت داسی یو حقیقت دی چی نړیوالو اسنادو، د هیوادونو اساسی قانونونو او د ټولی نړی بشری ټولنو پری باندی اعتراف کړی دی.

د بشری حقونو نړیواله اعلامیه د ټول بشر له بشری حقونو څخه، د ټولنیز جنسیت، بیولوژیک جنسیت، توکم او مذهب د په نظر کی نیولو څخه پرته، ضمانت کوی. سربیره پر دی، دولتونو د ښځو په وړاندی د هر ډول تاوتریخوالی د له منځه وړلو له کنوانسیون سره په الحاق کولو سره هم د ښځو حقونه په رسمیت پیژندلی دی. دغه کنوانسیون دولتونه مکلفوی ترڅو د دری ګونو اصولو یعنی د مساوات اصل، د عدم تبعیض اصل او د دولتی وجایبو د اصل د پلی کولو لپاره بنسټیز اقدامات وکړی.

رسنی د ښځو د ونډی په تبلیغ او ترویج کی بنسټیزه ونډه لری. دا موضوع د پکن د ښځو د ټولنی د اعلامیی، چی په ۱۹۹۵ کال کی د رایو په اکثریت تصویب شوی، د (ی) په فقره کی هم یاده شویده. دغه فقره په هر ډول رسنیو کی د ښځو فعال حضور خو د رسنیو په سرمشریزه کی د هغوی نشتوالی ته پام را ګرځوی. همدارنګه د اصلاحاتو راوستلو اړتیا ته اشاره کوی او دولتونه هڅوی ترڅو د ښځو د تریننګ، څیړنی او د سرمشریزی مقامونو ته د هغو د لوړولو لپاره کار وکړی. همداراز دغه اعلامیه د رسنیو له کارکوونکو څخه غوښتنه کوی ترڅو د دوه ګونو استراتیژیکو موخو د لاس ته راوړلو، د رسنیو او د رسنیو له لاری او د نورو نویو اړیکتیایی وسیلو له لاری د ښځو د ګډون او بیان او پریکړو ته د ښځو د لاس رسی د زیاتوالی، او په رسنیو کی د ښځو د یوه متوازن او غیر کلیشه ای انځور د تجسم لپاره هڅه وکړی. سیمه ایزی رادیوګانی باید د دغی موخی د لاس ته راوړلو لپاره مخکښی وه اوسیږی.

د انترنت او انترنتی اړیکو د امکاناتو منځ ته راتګ ښځو ته موقع ورکوی ترڅو له نارینه ؤ سره له یوه مساوی موقف څخه خپلی شبکی جوړی او اړیکی ټینګی کړی. خو سره له دی، د ښځو زیاته برخه په مخ پر ودی هیوادونو کی، چیرته چی هر ډول تکنالوژی ته د هغوی لاس رسی په جدی توګه محدوده ده، ژوند کوی. نه یواځی سیمه ایزی رادیوګانی بلکه د ټولنی په هر کچه پالیسی جوړوونکی، له محلی حکومتونو څخه نیولی بیا تر نړیوالو ارګانونو پوری باید د مخ پر ودی هیوادونو د ښځو ستونځو او آن د هغو ښځو ستونځو ته چی په پرمخ تللو هیوادونو کی یی هم تکنالوژی ته لاس رسی محدوده ده پام وکړی.

په خواشینی سره باید وویل شی چی په پالیسی جوړولو کی د ښځو انترنتی اړتیاوی په پراخه کچه هیری شوی چی په پایله کی یی داسی چاپیریال منځ ته راغلی چی د نارینه ؤ لخوا او د نارینه ؤ لپاره ځانګړی شوی او له بله پلوه د ښځو او نارینه ؤ تر منځ معلوماتی واټن او په انترنت کی د سوداګری او جنسی موخو لپاره د ښځو د بدن د بربنډو او نیمه بربنډو انځورونو کارونه زیاته شوی ده. سیمه ایزی رادیوګانی کولای شی چی د پالیسی میز ته د دغو ځانګړو اندیښنو په رسولو، د معلوماتی او اړیکتیایی تکنالوژی په کارولو کی د ښځو د ونډی په پیاوړی کولو او د دغه ډول سیاسی نا انډولتوب په جبرانولو کی ونډه ولری.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۱۳۲۵ ګڼه پریکړه لیک کی د کړکیچ په مخنیوی او د سولی په راوستلو کی د ښځو ونډه په رسمیت پیژندل شوی ده. سیمه ایزی رادیوګانی دنده لری چی د ښځو د ږغ د اوریدل کیدو له لاری د سولی په ټینګښت او په کړکیچنو شرایطو کی د ښځو او نجونو د ځانګړو اړتیاؤ په لیری کولو کی مرسته وکړی.

-- Converted from Word to PDF for free by Fast PDF -- www.fastpdf.com --

سیمه ایزی راډیوګانی دنده لری ترڅو نا انډولتوبونه جبران، په ټولو تصمیم نیوونکو او پروګرام جوړوونکو کچو کی د ښځو د ښکیل کیدلو آسانتیاوی برابری، په ورځنیو خبرونو کی د ښځو ږغ او اندیښنی شاملی، په مثبته توګه او د ټولنی د فعالو غړو په حیث د ښځو له انځور کیدو څخه ډاډ تر لاسه، او د تخنیکی مهارتونو په لاس ته راوړلو او د خپلو اړیکو د کنترول په اړه د ډاډ په ترلاسه کولو کی هغو سره مرسته وکړی. سیمه ایزی راډیوګانی د پر مخ تلونکی ټولنیز خوځښت یوه برخه ده؛ ځکه نو دغه راډیوګانی باید د ښځو له پر مخ تلونکی خوځښت سره خپلی اړیکی ټینګی او پیاوړی کړی. همداراز، دغه راډیوګانی مکلفیت لری چی داسی یوه اخلاقی پالیسی چی یو له اساساتو څخه یی ښځو ته درناوی او مساوات وی، طرح او تطبیق کړی. دغه د سیمه ایزو راډیوګانو لپاره د ټولنیز جنسیت (جندر) پالیسی به په راډیو ګانو کی د جنسیت د مساوات د تطبیقولو لپاره د یوی وسیلی په حیث وکارول شی او باید د راډیو ګانو د داخلی قانونونو او اخلاقی پالیسی ګانو یوه برخه وګرځی.

**لومړی برخه: د راډیو څپو ته د ښځو لاس رسی**

ښځی باید د راډیو څپو ته په داسی ډول لاس رسی ولری چی پخپله د سیاسی او ټولنیزو مسألو، سرګرمی ګانو او د ښځو د ستونځو په اړه پروګرامونه جوړ کړای شی.

د دی کار لپاره اړینه ده چی د ښځو د ترینګ په اړه مثبت نظر موجود وی، د پروګرام جوړولو لپاره کافی ځای د هغوی په واک کی ورکړل شی او د راډیو دننه او چار چاپیره امن او ملاتړ کوونکی چاپیریال منځ ته راوړل شی چی په دی کی د هر ډول جنسی آزار او تیری په وړاندی د ښځو د ساتنی لپاره د جنسی آزار او اذیت ضد پالیسی او د شکایتونو د یوه میکانیزم جوړول راځی. همدارنګه، ښځی حق لری چی پرته له کومی ویری څخه کار وکړی، ځکه نو د ځانی امنیت ساتنی او دفاع په اړه ترینګ، د ښځو په شرف او عزت باندی د تیری نه زغمل، او د راډیو دننه او بهر ګواښونو سره د مقابلی لپاره ښځو سره مرسته کول راډیویی څپو د ښځو د لاس رسی د اجازه ورکولو یوه مهمه برخه جوړوی.

ځینی وختونه د فرهنګی ملحوظاتو په دلیل راډیویی څپو ته د ښځو لاس رسی سخت وی، د بیلګی په توګه ښځی نشی کولای چی یواځی سفر وکړی یا د شپی تر ناوخته پوری دباندی وه اوسی. باید هڅه وشی چی دغه خنډونه د ښځو له مخی لیری شی مثلاً د ګرځنده راډیویی دستګاه یا د ترانسپورت د برابرولو او یا هم د بدرګه کولو له لاری. ښځو ته د ځانګړو تخنیکی ترینګونو د ورکولو یا د ښځو د کار د ورځی په نوم د ځینی ورځو د ځانګړی کولو له لاری کولای شو چی د ډاډ د نشتوالی په ستونځی باندی غلبه وکړو. تر هغه وخته پوری چی ښځی توازن لاس ته راوړی، د ښځو د ګډون د ملاتړ، د راډیو دننه او د خپرونو په لړ کی له هر ډول تبعیض څخه د هغو د ساتنی، او د ښځو د انډولیز ګډون لپاره د یوه مناسب چاپیریال د را منځ ته کولو لپاره راډیوګانی باید د راډیو دننه د ښځو د یوه ځانګړی میز د جوړولو هوډ وکړی.

**دوهمه برخه: په خپرونو کی د ښځو استازیتوب**

ښځی تشویق کړی چی هر ډول استازیتوب وکړی او د ښځو لپاره په کلیشه ای ونډو باندی، لکه څرنګه چی د کورنیو دننه کیږی، ټینګار مه کوی.

ډاډ تر لاسه کړی چی له ټولو خلکو سره، د اجتماعی جنسیت، قوم، صنف، جنسی لیوالتیا او نورو ځانګړتیاؤ د په پام کی نیولو پرته، د راډیو په ټولو خپرونو کی، څه د راډیو په خپلو خپره ایزو توکو او څه هم په سوداګری خبرتیاؤ کی هغوی سره په درناوی چلند وشی. په دی موضوع کی دا هم راځی چی باید ډاډ تر لاسه شی چی نه د نارینه ؤ او نه هم د ښځینه ؤ شخصیت ته، څه په فزیکی توګه یا په بله بڼه، سپکاوی کیږی. د ښځو له نظریاتو څخه باید په ټولو خپرونو کی استازیتوب وشی. سربیره پر دی، د ښځو لپاره باید ځانګړی پروګرامونه مختص وګرځول شی او په عین وخت کی د ښځو فعالیتونه نباید په دغو د ښځو پروګرامونو پوری محدود کړای شی.

ډیری وختونه په رسنیو کی له ښځو څخه د تخصص او کارپوهنی د یوی سرچینی په حیث سترګی پټیږی. د خبری او تحلیلی خپرونو لپاره باید له راز راز سرچینو څخه، چی د ټولنی له ټولو سکتورونو څخه استازیتوب وکړای

-- Converted from Word to PDF for free by Fast PDF -- www.fastpdf.com --

شی، کار واخیستل شی. د دغه کار د آسانولو لپاره ښه به دا وی چی د ښځینه متخصصینو یو لست جوړ او د اړتیا په وخت کی ورڅه کار کار واخیستل شی.

**دریمه برخه:**
**په اقلیتونو کی د پاتی ښځو ځانګړی اړتیاوی**

د ښځو د تجربو تنوع ته باید د قدر په سترګه وکتل شی او هغو ښځو ته چی د سوداګری او دولتی رسنیو لخوا له بیلابیلو تبعیضونو، استبداد او نه پاملرنی سره مخامخ شوی دی باید موقع ورکړل شی چی د مختلفو مهارتونو درلودونکی ښځی د قومی، قبیلوی او بومی اقلیتونو ښځی، او د جنسی اقلیتونو ښځی لکه همجنس بازانی او مخنثانی رانغاړی.

باید رادیویی څپو ته د ښځو او نورو خلکو له لاس رسی څخه ډاډ تر لاسه کړی او په تیره بیا د اقلیتونو ښځو ته لومړیتوب ورکړی ترڅو په یوه مصؤون او له تبعیضه خالی چاپیریال کی خپلی ستونځی په خپرونو کی مطرح کړی.

ښایی د دغه راز ښځو ښوونه او ظرفیت جوړونه یو بی ساری کار وی او همداراز د اړتیاؤ د لیری کولو لپاره باید پیسی ولګولی شی.

**څلورمه برخه:**
**د رادیو په ټولو مدیریتی څانګو کی د ښځو استازیتوب**

په سیمه ایزو رادیوګانو کی د دولتی/عامه او سوداګریزو رادیو ګانو په پرتله د ښځو زیات استازیتوب کیږی. خو له دی سره سره لا هم له ښځو څخه کافی استازیتوب نه کیږی په تیره بیا د تصمیم نیونی او تخنیکی برخو کی؛ او هم زیات شمیر داسی رادیو ګانی شته چی پکښی اصلاً له ښځو څخه استازیتوب نه کیږی.

ددی لپاره چی د رادیو په ټولو څانګو کی له ښځو څخه سم استازیتوب وشی، اړینه ده چی په تخنیکی مدیریت کی د ښځو د استازیتوب په ګډون د مالکیت، مدیریت او تولید په څانګو کی د هغو لپاره د استازیتوب سهمیه وټاکل شی. وروستی موخه د ښځو او نارینه ؤ تر منځ مساوات ته رسیدل دی خو په مؤقته توګه د ښځو د استازیتوب لپاره ۳۰٪ سهمیه باید وټاکل شی. د دغی سهمیی د لاس ته راوړلو لپاره اړینه ده چی د ښځو د مهارتونو په برخه کی پانګونه وشی او د رهبری او مدیریت په ډګرونو کی، چی موخه یی په رادیو کی مساوات ته د رسیدو لپاره له ښځو سره مرسته وی، تریننګونه په لاره واچول شی.

د ښځو ګډون په رادیو کی د ښځو د شمیر په اساس نشی ټاکل کیدای. اړینه ده چی د تولید، مالکیت او تصمیم نیونی په برخو کی له ښځو څخه استازیتوب وشی. دغه کارونه باید ترسره شی ترڅو ډاډ ترلاسه شی چی ښځی په منطقی توګه د پالیسی په پروسو کی ګډون کولای شی، چی کولای شی د یوه له فرهنګی نظره حساس او ملاتړ کوونکی چاپیریال رانغاړونکی وی. راز راز داسی لاملونه شته چی د ښځو د ګډون لپاره آسانتیاوی برابرولی شی لکه د ماشومانو ساتنه، د کار ساعتونه او انعطاف منونکی نشراتی مهال ویش چی د ښځو نور مسوؤلیتونه پکښی په نظر کی نیول شوی وی، په استیشن کی او د ملاقاتونو او د پروګرام د خپرولو په جریان کی د کافی نور شته والی، یا د هغو ښځو لپاره چی د شپی ناوخته یا د رخصتی په ورځو کی تګ را تګ ته اړی وی د ډاډ وړ ترانسپورت برابرول. کم تر کمه د هر تریننګ د ګډون کوونکو نیم ظرفیت باید د ښځو لپاره ریزرف شی.

-- Converted from Word to PDF for free by Fast PDF -- www.fastpdf.com --

**پنځمه برخه:**
**د مناسبې تکنالوژۍ کارول**

په داسې حال کې چې ځینې ښځې د تکنالوژۍ په کارولو کې مهارت لري، اکثره ښځې له معلوماتي تکنالوژۍ څخه کار نشي اخیستلای. اکثراً ښځو ته اجازه نه ورکول کیږي چې د یوې استدیو د کاروني په شان د دودیزې تکنالوژۍ په ګډون له تکنالوژۍ څخه کار واخلي. اړینه داده چې د دیجیټل تکنالوژۍ په ډګر کې په موجوده جنسیتي واټن اعتراف وکړو او د ښځو لخوا د ښځو لپاره د تخنیکي تریننګونو د ورکولو او په مناسبه تکنالوژۍ باندې په پانګونې سره دغه واټن له منځه یوسو.

مناسبه تکنالوژۍ ټولوته د لاس رسي وړ سرچینې څخه د مجاني نرم افزار د لاس ته راوړلو هوډ په بر کې نیسي چې د استدیو په داسې شان تنظیمول چې ښځو ته په آساني سره د استفادې وړ وي هم پکښې راځي. البته باید په یاد وساتل شي چې ښځې او نارینه ځینې فزیکي توپیرونه هم سره لري. د بیلګې په توګه د ښځو قد معمولاً د نارینه ؤ په پرتله لړ ټیټ وي او هم باید داډ ترلاسه شي چې ټول له استدیو څخه کار اخیستلای شي. سربیره پر دې، د تریننګ مواد باید ټولو ته د لاس رسي وړ وګرځول شي لکه په سیمه ایزو ژبو د موادو ژباړل یا بې سواده کسانو ته د هغو آماده کول څو چې ټول پرې پوه شي.

له بله پلوه، د ځیرنې د تشویق او د هغو نوښتونو څخه د ملاتړ شدیده اړتیا لیدل کیږي چې بیوزله او بیسواده کسانو سره مرسته کوي ترڅو خپلې اړیکتیایي اړتیاوې لیرې کړای شي چې البته دا به هله امکان ولري چې داسې تکنالوژۍ منځ ته راوړل شي چې بیسوادان ورڅخه کار واخستلای شي، او هم ارزانه تکنالوژۍ په واک کې ورکړل شي.

**شپږمه برخه:**
**د ښځو د راډیو تمویل او د هغو د ظرفیتونو لوړول**

د ظرفیتونو لوړول د ټولنیز جنسیت توازن ته د رسیدو یوه مهمه برخه بلل کیږي. د ظرفیتونو لوړول یواځې د ښځینه کارکوونکو لپاره ندي بلکه هم ښځې او هم نارینه رانغاړي ترڅو د یوه امن، ملاتړ کوونکې او پر مخ تلونکي چاپیریال د جوړلو لپاره، چیرته چې ټول کارکوونکي د راډیو د بریالیتوب لپاره د هر ډول همکارۍ توان ولري، سره یوځای کار وکړي.

په عین حال کې، د راډیو د نارینه او ښځینه کارکوونکو لپاره باید له جنسیتي پلوه حساس تریننګونه ورکړل شي ترڅو هغوی د پلار سالارۍ له رفتارونو او د تبعیض آمیزه انځورونو له خپرولو څخه باخبره شي او د تساوي پلوه جنسیتي اړیکو د ټینګولو او له تبعیض څخه پرته او دجنسیت سره سمو رپوټونو د ورکولو جوګه وګرځي.

په داسې حال کې چې زیات شمیر راډیو ګانې د جنسیتي توازن غوښتونکې دي، په ندرت سره داسې لیدل شوي چې د دغې موخې د لاس ته راوړلو او د ظرفیتونو د لوړولو لپاره پیسې تخصیص ورکړل شوي وي. باید د ټولنیز جنسیت توازن ته د رسیدول لپاره بودجه اختصاص ورکړل شي. له دغې تخصیص ورکړل شوي بودجې څخه باید په تخنیکي، پروګرام جوړونې او مدیریتي برخو کې د ښځو د تریننګ لپاره کار واخیستل شي تر څو داسې شرایط را منځ ته شي چې ښځې د امنیت احساس وکړي (لکه تنویر، امنیتي وسایل او بیل تشنابونه) او هم په راډیو کې د ښځو لپاره د اړیکو د ټینګولو امکانات برابر شي.

د تشکیل له نظره، ښه به دا وي چې د کارکوونکو، سلاکار هیأت یا رهبرۍ کمیټې کې د «ښځو د چارو مسؤول» په نامه یو پست جوړ شي ترڅو د راډیو اړتیاوې بررسي او د جنسیتي توازن د لاس ته راوړلو لپاره، مثلاً د ښځو د میز له لارې، پروګرامونه پلې کړي.

-- Converted from Word to PDF for free by Fast PDF -- www.fastpdf.com --

WOMEN'S INTERNATIONAL NETWORK
RÉSEAU INTERNATIONAL DE FEMMES
RED INTERNACIONAL DE MUJERES
AMARC WIN



**This Gender Policy has been translated into 15 other languages see:**

AMARC-WIN International
705 Rue Bourget #100
Montreal, Quebec
CANADA, H4C 2M6
Tel: +1-514-982-0351
Fax: +1-514-849-7129
secretariat@si.amarc.org,
http://win.amarc.org/





The inputs to this gender policy come from the members of AMARCWIN Asia Pacific and it was appoved by AMARC-WIN International.



Drafing Commettee: Geeta Malhotra, READ (India); Nimmi Chauhan, DRISHTI Media Collective (India); Sonia Randhawa, AMARC Asia Pacific Board (Australia); Tamara Aqrabawe, INTERNEWS (Afghanistan); and Bianca Miglioretto, ISIS INTERNATIONAL (Philippines)

**Cooordination:**
**Isis International, www.isiswomen.org**